## د بشري حقونو د ملاتړکوونکو د ټولنې اعلامیه

## د افغان کډوالو د جبري ایستلو او د له خطر سره مخ ډلو د ګواښونو په اړه

۲۷ / اکتوبر/ ۲۰۲۵

د بشري حقونو د ملاتړکوونکو د ټولنې د ژورې اندېښنې په څرګندولو سره، په پراخه څېړ او تنظیم شوي ډول د افغان کډوالو د نیولو، ځورولو، سیستماتیک فشارونو او له پاکستان څخه د جبري ایستلو څېړه په کلکو ټکو غندي. دغه کړنې د نړیوالو حقونو بنسټیز اصول، بشردوستانه مکلفیتونه، عرفي اصول د پناه غوښتونکو د ساتنې، او د انساني اخلاقو څرګند نقض دی.

د باور وړ نړیوالو راپورونو او د مدني ټولنې د موندنو له مخې، پاکستان د ۲۰۲۳ کال څخه تر ۲۰۲۵ کال لومړیو پورې شاوخوا ۶۰۰ زره افغان کډوال ایستلي او له ۸۰۰ زرو څخه تر یو میلیون تنو پورې یې پرته له دې چې د دوی د استوګنې قانوني وضعیت وڅېړي، په جبري ایستلو مجبور کړي دي. ښځې، د بشري حقونو فعالان، خبریالان او نور زیانمن اشخاص په کراچۍ، اسلاماباد، پېښور او کوټې کې پرته له انفرادي ارزونې نیول شوي او د فوري ایستلو له خطر سره مخ شوي دي. راپورونه ښيي چې ځینې خبریالان او فعالان چې د طالبانو تر تعقیب لاندې وو، د قانوني بهیر له تېرېدو پرته بېرته افغانستان ته لېږدول شوي دي.

همدارنګه، پخواني پوځیان او امنیتي کارکوونکي چې په افغانستان کې د شکنجې (ځینې)، جبري تښتونې او غیر رسمي وژنو له خطر سره مخ دي، له کمپونو ایستل شوي او جبراً ستنېدو ته اړ شوي دي. قومي او مذهبي لږکۍ او نور زیانمنې ډلې هم د ایستلو په لېست کې شاملې شوې دي. د مدني ټولنې فعالان، سندرغاړی او موسیقي پوهان راپور ورکړي چې د پاکستان پولیسو هغوی یوازې د "غیرقانوني" په نوم نیولي او ایستلي دي.

دغه شواهد ښيي چې په پاکستان کې د ایستلو بهیر ډلهییز، له انفرادي ارزونې پرته، له ناوتریخوالي، سپکاوي او د قانوني وکیل او قضایي بهیر له بشپړ محرومیت سره یو ځای ترسره کېږي. ډېرې نیونې د شپې، ناڅاپه او بې له مخکې خبرونې ترسره کېږي چې دا په څرګنده توګه جبري ایستل او د بشري حقونو پراخ نقض دی.

که څه هم پاکستان د ۱۹۵۱م کال د پناه غوښتونکو د کنوانسیون غړی نه دی، خو د "نه ستنولو" اصل یو لازمي عرفي قاعده ده چې ټول دولتونه یې رعایت ته مکلف دي. د هغو کسانو جبري ستنول چې په افغانستان کې د شکنجې، سیاسي تعقیب، جنسیتي تاوتریخوالي، جبري تښتونې یا مرګ له خطر سره مخ دي، د شکنجې پر ضد کنوانسیون(CAT) ، د مدني او سیاسي حقونو نړیوال میثاق(ICCPR) ، د بشري حقونو نړیوالي اعلامیې (UDHR) او د پناه غوښتونکو د ساتنې له عرفي اصولو سره ښکاره ټکر دی.

**مجمع په بیړني ډول د لاندې ادارو څخه غوښتنه کوي:**

- د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ **(UNHCR)** او د کډوالو نړیوال سازمان **(IOM)** څخه غواړي چې د له خطر سره مخ ډلو د وضعیت ارزونه چټکه کړي او له هر ډول جبري ستنولو مخنیوی وکړي؛
- د ملګرو ملتونو له ځانګړي راپور ورکوونکي د افغانستان د بشري حقونو د وضعیت په اړه او د بشري حقونو له عالي کمېشنرۍ غواړي چې قانوني فشار، مستند جوړونې او منظم راپور ورکول زیات کړي؛
- له اروپایي اتحادیې، کاناډا، امریکا او نورو هغو هېوادونو غواړي چې د پناه غوښتونکو د کنوانسیون لاسلیک کوونکي دي، **د بشردوستانه خوندي لېږد لارو (Humanitarian Evacuation Routes)** فعالې او اسانه کړي؛

- له مدني شبکو، حقوقي سازمانونو او د کډوالو له بنسټونو غواړي چې زيان‌مني پېښې مستند کړي او د ملاتړ لپاره يې نړيوالو ادارو ته راجع کړي.

**د بيړني ملاتړ د شبکې جوړول**

د بشري حقونو د ملاتړکوونکو ټولنه د يوه منظم او عاجل ملاتړ د شبکې جوړول خورا اړين ګڼي؛ داسې شبکه چې حقوقي، حفاظتي، رواني، رسنيز او بېړنی مرستندوی واحدونه ولري، څو د ښځو، مدني فعالانو، خبريالانو، پخوانيو پوځيانو او لږکيو ساتنه وشي چې د فوري خطر سره مخ دي.

**د بشري حقونو د مدافعينو مجمع**

**HRD+**